قاسم باز

۰۹ جنوری ۲۰۲۳



قاسم باز

## داســـی نـــه وم

بیده بنـه یـم چـی بیده وم بی خبر وم
چی راویـښ شمـه د ځان سره په شر وم

سترګی پټـی هسی ښـی دی چـی وی پټی
خوچی وینی شی لهاوښکوګریبان تر وم

لیونی چـی لیونتوب کړی بـد خـو نکړی
کلـه کلـه خپـل مـاضـــی تــه زه اوتر وم

دا څه ګورم دا څـه مخکښی می تیریږی
زه پخـوا خـو داسی نـه، پـرهر پرهر وم

دا څـه وشـول دا بـه څـه او دا څـه کیږی
زه یو وختی لوی فاتح او لوی محشر وم

نــه د درد نـــه د ژړا اوس څـوک لــرمـه
زه غښتلـی وم پـخــوا تـــل پــه ظفر وم

انسانیــت او آدمیــت دلـتــه ورک شــوی
بــاور وکــړی کلـــه ځـانـــی زه منکر وم

بـی وسییم، زه اوس داسی زبـون کـړی
زه پخـــوا د ټـولـو خلکو جـان جیګر وم

قاسم باز، ۱/۸/۲۰۲۳